

د ښاغلي عبدالغفور ليوال
بيلابيل خوندور او په زړه
پورې شعرونه

***

ترتيب کوونکی :
انجنير عبدالقادرمسعود



عبدالغفور ليوال

# د اوسني مخکښ شعر و ادب
# ټولپېژندلی استازی ښاغلی
# عبدالغفور لیوال:

ښاغلی عبدالغفور لیوال هغه نوښتګر لیکوال، ویناوال او شاعر دی، چې په ټوله ریښتینولۍ یې خپلې پنځونې د افغان اولس د ویاړونو او دردونو ځلونې او انځورنې ته ځانګړې کړې دي. ده په خپل ځوان منګ (۳۸کلنۍ) کې ګڼ څېړنیز اثار او ادبي پنځونې چاپ ته سپارلي او نور ډېر څه یې د چاپي او برېښنايي رسنیو له لارې خپاره کړي دي.

- ښاغلي عبدالغفورلیوال په خپلو شعرونو کې له هیواد او هیواوالو سره، پښتون ټبر، پښتوژبې او پښتونولي او انسان او انسانیت سره پاکه او سپیڅلې مینه، د پښتني او اخلاقي ارزښتونو، د ملي، ټولنیزو او انساني ولولو اوعواطفو په اړه استدلال، منطق، علمي او ادبي څیړنې، یووالي او ورورولي، ملي وکړ(هویت)، دآزادۍ او دموکراسۍ غږ، انصاف او عدالت، دخلکو برابرې ریښتینې حقوق او ورورګلوي، دسولې او سوکالې

مفکورې، او د پردیسۍ ژوند په ډیر ښکلي سیمبولونو، تصویرونو او خیالونو کې په ډیر هنرمندانه شکل او شعري ژبه داسې انځور کړې دي، چې د هرلوستونکې او اوریدونکې په ذهن او زړه کې ښکلا او مینه راپاروي، او ترینه خوند و پند اخلي.

ما د دغې نوښتګر شاعر یو شمیر شعرونه په انځوریز بڼه ترتیب کړي دي ستاسو دادب مینه والو دوستانو پام ورته را اړوم. هیله من یم په لوستلو یې ستاسو ادبي تنده ماته شي.

په درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادرمسعود

ژوند لکه سپیني اوبه

خیال د ژوندون نه ساتو دومره بې تدبیره یو
ستا سترګو ته نیغ ګورو موږ څومره بې پیره یو
ډک خم په سر اړوو، وعظ د ملا نه اورو
ښکلو سره مینه کړو نور نو بې تقصیره یو
ژامه د لیوه باسو مرګ مو پرې لوریږي نه
ښکار ته کمان نه لرو زړونو ته بې تیره یو
رنګ سره بلد نه یو زړونه مو دي سپین ساده
خیال د انځورګر لولو خپله بې تصویره یو
ژوند سپینو اوبو غوندې غواړو یې نغمو غوندې
سترې یې له وینو یو سترې یې له ویره یو



شاعر: عبدالغفور لیوال

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادرمسعود

## د سترګو ماتې هينداري

يوڅوک دې په سندرو او په وير يادوي
مريد دی په حلقه کې نوم د پيرياد وي

د زلفو په ترلو موڅوک کله ناز وي
زمورږ د جنون نښې په زنځير ياد وي

زما د لمدو سترګو ماتې ماتې آييني
دوينو ، اوښکو منځ کې ستا تصوير يادوي

چې زړونه رانه يو سي خپل ښايست ته شي مغرورې
چې زړونه مو رامات کړي نوتقدير يادوي

د يار د نامه توري مې سلګيو کې ماتيږي
دا څوک په دې دنيا کې ما فقير يادوي



شاعر : عبدالغفور ليوال
ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

## بارانونه او ډيوې

تياره ده، تروږمۍ ده، ستا يادونه او ډيوې
له سترګو سره جنګ کوي خوبونه او ډيوې
ستا زلفې يې په مخ دانه وانه وې خورې کړې
بېګاه يو ځای راغلي وو بادونه او ډيوې
ګيډۍ ګڼ کميسونه په کې چتې پښتني
واه ! ښکلي يو ځای شوي دي ګلونه او ډيوې
دا خلک خړو کليو کې بس خپل جانان ته پريږدئ
دا خلک درنه نه غواړي ښارونه او ډيوې
په تنده دی په منډه دی ملت مې په تياره کې
خاونده ! يو ځای ورکړې بارانونه او ډيوې

شاعر : عبدالغفور ليوال



ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

## پیر



بوی د نرګسو له دې باغه په څه ویرو تلی
خیال نه مې پټ ستا د خوږو سترګو تصویر وتلی
کله ما تیرې تا ګنډلی که جفا کړې که ناز
زړه نه مې تیر و بیر دا ستا د بڼو تیرو تلی
ساقي له مخ نه دې نور نه اوري نن زما په ګومان
له میکدې څخه ناراضه کوم فقیر وتلی
دا خلک پیژني یوازې د خزان باد و نه
له دې د یاره د خوږو وږمو بهیر وتلی
دا مریدان به خو د یو بل په کنایو یادوي
دې خانقاه څخه لیواله د عشق پیر وتلی

شاعر: عبدالغفور لیوال

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

## مات غرور



پورته دې بانه کړه د ادا په غیږ کې شپه راکړه
وروه زلفې د ښکلا په غیږ کې شپه راکړه
شونډو کهنګارو ته د مینې د آیت په نوم
شونډې را نږدې کړه د دعا په غیږ کې شپه راکړه
زه یم، یو څو اوښکې دمه ستا د بارخو سیورو ته
خیر دی مساپر یم د خندا په غیږ کې شپه راکړه
مات غرور خو نه یم چې د ناز غیږ نه مې وشړې
سترګو کې دې خوب یمه اشنا په غیږ کې شپه راکړه
خپل دې یم، پښتون دې یم، غزل دې یم، لیوال دې یم
ځار شم پښتنې نن د حیا په غیږ کې شپه راکړه

شاعر: عبدالغفور لیوال

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

## اوښکه



جانانه د خوږو سترګو تصویر سره دې ژاړم
د خوب او خیال له تور او سپین تعبیر سره دې ژاړم

دا تاراته ویلي و چې بند کې به مې ساتې
ته نه یې د یادونو له زنځیر سره دې ژاړم

ستا اوښکه مې تاویزکړه ګرځومه یې په غاړه
له پیر سره دې ژاړم له فقیر سره دې ژاړم

بس تاکې چې او سیږم لیونی یمه وطنه
خندا سره دې خاندم او له ویر سره دې ژاړم

برخلیک دې دی چې خپله مینه خښه کړې په خپله
لیواله بد قسمته له تقدیر سره دې ژاړم

شاعر: عبدالغفور لیوال
ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## د لنډیو شرنګ

شب پرست یم خپل یزدان سره مې شپه ده
ستا له زلفو او باران سره مې شپه ده

مجلسي یاران مې ستوري او سپوږمۍ دي
مسا پریم شنه آسمان سره مې شپه ده

ستاد سترګو څه نیکمرغه اسارت دی
چې له تیرا وله کمان سره مې شپه ده

له ګونګرو یې د لنډ یو شرنګا اورم
ستاله ټیک او له پیزوان سره مې شپه ده

چې ویده شمه بس جنګ په خوب کې وینم
ستا د حسن له افغان سره مې شپه ده



شاعر: عبدالغفور لیوال
ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

# غځوني

ځلېږي آيينه کې چې ښکارېږي آيينه کې
د خپل ښايست له سترګو راورېږي آيينه کې

ته پانه پانه ژوند يې او زه ذهن د ځنګلونو
آبشار زما شاهد دی چې شنه کېږي آيينه کې

بانه په سجده پرېوتل د اوښکو په محراب کې
ای حسنه څه مغرور يې خو ماتېږي آيينه کې

جوهر زما د وينو انعکاس کوي ستا مخ کې
دا رنګ د حيا نه دی، چې سره کېږي آيينه کې

زه لاس د انځورګر يم تا به ځنګه کړم راتوله
ته څومره ځانګې ځانګې لا غځېږي آيينه کې



شاعر: عبدالغفور ليوال
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادرمسعود



# يو مساپر

تو به مې کړې وه چې ماته شوه توبه مې وکړه
شيخ او ساقي سره همدومره ګوزاره مې وکړه
ته به مې خوب غوندې په ياد کې ساتې ښکلې ياره
يو مساپر وم، دلته راغلم يوه شپه مې وکړه
افغانستان غوندې زخمي زړګی مې راوړ درته
جا نانه راشه، شونډې راوړه څه چاره مې وکړه
دې ته دې هم لويه ګناه وويل زما قاتله
چې ځنکدن کې د وطن خواته سجده مې وکړه
زه ستړی نه وم خو پښتو مې مخ ته ودريده
توره مې ماته کړه دښمن سره جرګه مې وکړه

شاعر: عبدالغفور ليوال
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادرمسعود



## سهار

ادا د زلفو سلسله ماته کړي
ښکلې غوسه شي آيينه ماته کړي
ځار شم حيرانه ده چې تش وربل ته
د ګل ځواني په څه پلمه ماته کړي
ستا د کتو سپرلي ته وايه اشنا
چې مې د روح کنګل ځيله ماته کړي
څومره ليوال يو د درشل سهار ته
کله به راشي چې دا شپه ماته کړي
غمه د اوښکو ساقي څه شوه چې لږ
د نظر جل د زړه غرمه ماته کړي

شاعر: عبدالغفور ليوال

ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادرمسعود



د ښاغلي عبدالغفور ليوال
بيلابيل خوندور او په زړه
پورې شعرونه

***

ترتيب کوونکی:
انجنيرعبدالقادرمسعود